دا چې ستاسو څخه یو څوک خپله رسۍ واخلي، او په شا ګډې راوچلوي او بیا یې خرڅ کړي، او پدې سره یې الله تعالی د هغه مخ (له عذاب) څخه وژغوري، دا ورته لدې ډېره غوره ده چې له یو چا څخه سوال وکړي، چې یا به یې ورکړي او یا به یې ترې منع کړي

له زبیر بن العوام رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «دا چې ستاسو څخه یو څوک خپله رسۍ واخلي، او په شا ګډې راوچلوي او بیا یې خرڅ کړي، او پدې سره یې الله تعالی د هغه مخ (له عذاب) څخه وژغوري، دا ورته لدې ډېره غوره ده چې له یو چا څخه سوال وکړي، چې یا به یې ورکړي او یا به یې ترې منع کړي».

[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم څرګنده کړه چې یو کس باید خامخا یو کار وکړي، آن تر دې چې یوه رسۍ واخلي، په شا لرګي راټول کړي، بیا یې خرڅ کړي او له همدې لاري وخوري او یې خیرات کړي او د خلکو له ورکړي پرې ځان بسیا شي او د سوال کولو له سپکاوي خپل مخ وژغوري؛ دا به ورته لدې غوره وي چې له خلکو سوال وکړي؛ چې یا به یې ورکړي او یا به یې ترې منع کړي، ځکه له خلکو سوال کولو کې ذلت دی، حال دا چې مومن الله تعالی عزتمن پېدا کړی نه سپک او ذلیل.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3785